CALIFORNIA
DEPARTMENT OF JUSTICE
VICTIMS' SERVICES UNIT

## په 2008 کال کې د قربانیانو د حقونو تصویب شوی قانون

# د Marsy کارت او سرچینې

### د قربانیانو لپاره د عدالت او قانوني بهیر حقونه برابرول

| | |
|---|---|
| د مدیر نوم: | ټلیفون: |
| د څارنوال نوم: | ټلیفون: |
| د پولیسو راپور شمېره: | د سترې محکمې شمېره: |
| د مدعي نوم: | د زیږیدو نېټه: |

د 2008 کال د نومبر په 4 مه، د کلیفورنیا ایالت خلکو د 2008 کال د قربانیانو د حقونو قانون 9 شمېره وړاندیز شوي طرحه تایید کړه: د Marsy قانون. دې اقدام د کلیفورنیا آیالت اساسي قانون اصلاح کړ تر څو قربانیاتو ته د لا زیاتو حقونو د ورکولو زمینه برابره کړي. په دې کارت کې د قربانیانو د حقونو او سرچینو د منشور ځانګړې برخې شاملې دي. جرمونو قربانیان کولی شي د Marsy قانون او د قربانیانو سره سیمه‌ییزو شواهدو د مرستې مرکزونو په اړه نور معلومات ترلاسه کړي، د لوی څارنوال د قربانیانو د خدمتونو له واحد سره د 9069-433-877-1 شمېرې له لارې اړیکه ونیسي یا زموږ وېب پاڼې ته په www.oag.ca.gov/victimservices/contact پته مراجعه وکړي.

د کلیفورنیا د اساسي قانون له مخې، "قرباني" هغه کس ته ویل کېږي چې د جرم یا د جرم د هڅې له امله مستقیم یا ګواښېدونکی بدني، رواني، یا مالي زیان وګالي. د "قرباني" په اصطلاح کې د هغه کس مېرمن، مېړه، مور، پلار، اولادونه، ورور، خور یا سرپرست هم شامل دي او همداراز د هغه قانوني استازی هم پکې شامل دی چې قرباني له امله وفات شوی وي، ماشوم وي یا فزیکي یا رواني ډول کمزوری (مغلول) وي. د "قرباني" په اصطلاح کې هغه کس نه شاملېږي چې د کوم جرم له امله بندی وي، تورن وي یا هغه څوک وي چې محکمه دا ومومي چې د قرباني ماشوم د غوره ګټو لپاره به عمل ونه کړي. ((Cal. Const., art. I, § 28(e).)

## د آيالت په کچه د قربانيانو سرچينې

**د لويانو خوندي کوونکي خدمتونه:** دا اداره د لوړ عمر لرونکو او تر کفالت لاندې لويانو د خونديتوب او روغتيا لپاره ځانګړې شوې دی چې د ناغېرۍ، ناوړه ګټې اخيستنې يا استثمار سره مخ شوي دي. د ناوړه ګټې اخيستنې يا ناغېرۍ په اړه د راپور ورکولو يا په خپله کاونټۍ کې د لويانو د خونديتوب خدمتونو سره د اړيکې نيولو لپاره مهرباني وکړئ له 0832-401-833-1 شمېرې سره اړيکه ټينګه کړئ.

**د کليفورنيا آيالت د اصلاحاتو او بېرته په پښو درولو اداره، د قربانيانو او پاتې يا ژغورل شويو کسانو د حقونو دفتر (OVSRS):** دا اداره هغه مهال چې مجرم د کليفورنيا په يوه زندان کې وي، په مشروط ډول د خوشې کېدو استماعيه ناستو، په مشروط ډول خوشې کېدو شرايطو، د بند حالت کې بدلون او د تاوان (جبران زيان) په اړه معلومات برابروي. که چېرې تاسو کومه پوښتنه لرئ يا مرستې ته اړتيا لرئ نومهرباني وکړئ له 6877-256-877-1 شمېرې سره اړيکه ونيسئ يا www.cdcr.ca.gov/victim_services ته برښناليک واستوئ

**د قرباني د زيان د جبران پروګرام:** د کليفورنيا د قربانيانو د تاوان ورکولو بورډ (CalVCB) د وروستي تمويل کوونکي حيثيت لري. که چېرې تاسو په شرايطو د برابرېدو معيارونه پوره کړئ، CalVCB کولای شي له تاسو سره د جرم له امله د رسېدلو زيانونو د لګښتونو په بېرته ادراينه کې له تاسو سره مرسته وکړي. په شرايطو د برابرېدو د اړينو اړتياوو، د CalVCB لخوا تر پوښښ لاندې نېول شويو جرمونو او په شرايطو د برابرېدو د لګښتونو په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د قرباني د سيمه ييز شاهد له مرکز يا په مستقيم ډول له CalVCB سره په 9229-777-800-1 شمېره اړيکه ونيسئ يا www.victims.ca.gov پتې ته مراجعه وکړئ

**د کليفورنيا آيالت د قربانيانو د سرچينو مرکز:** د قربانيانو د حقونو، په خپله جغرافيوي سيمه کې د قربانيانو اړوند سرچينو او د زيان د جبران اړوند معلومات وړاندې کوي. که چېرې تاسو کومه پوښتنه لرئ يا مرستې ته اړتيا لرئ، مهرباني وکړئ له VICTIMS-800-1 سره اړيکه ونيسئ يا www.1800victims.org ته برښناليک واستوئ.

**د کليفورنيا آيالت د ريلې خدمت:** دا اداره د خبرو اترو په برخه کې له خنډ سره مخ کسانو، کڼو يا په سخت ډول اورېدونکو اړيکه نيوونکو ته د اړيکو د ټينګولو په موخه په ځانګړې توګه روزل شوي مرستندوی کسان وړاندې کوي. که چېرې تاسو کومه پوښتنه لرئ يا مرستې ته اړتيا لرئ، 711 ته زنګ ووهيئا له 2929-735-800-1 سره اړيکه ونيسئ.

**د قربانيانو/شاهدانو د مرستې مرکز:** د قربانيانو/شاهدانو د مرستې سيمه ييز مرکزونو، وکالت خدمتونو، د جزايي عدالت د پروسې په اړه معلوماتو او نورو سرچينو د ترلاسه کولو لپاره، مهرباني وکړئ د لوی څارنوال د قربانيانو د خدمتونو له برخې سره د 9069-433-877-1 شمېرې له لارې اړيکه ونيسئ يا www.oag.ca.gov/VictimServices وېب‌پاڼې ته مراجعه وکړئ.

**د ټولنې پر بنسټ د رغوونکي عدالت پروګرامونه:** د CA د جزا قانون د 679.02 او 679.027 برخو سره سم، "بيارغونې عدالت" د زيان په صورت کې د حساب ورکولو، درملنې او ترميم هڅوي. په دغو پروسو کې کېدای شي زيانمن شوی کس، هغه کس چې زيان يې رسولی وي، د هغوی کورنۍ او د ټولنې د غړو ترمنځ اسانه شوې ناستې شاملې وي، تر څو د زيان د اصلي علتونو او اغېزو پلټنه وکړي او د حساب ورکوونې او روغېدنې ملاتړ وکړي. د بيا رغونې عدالت پروسې اکثرا په ژوره توګه په زيان د پوهېدنې، د حساب ورکوونې د معنا لرونکو څرګندونو او د ځانګړو اقداماتو په اړه موافقو ته رسېدل پکې شاملېږي چې د زيان د د اصلاح لپاره وي، لکه شخصي يا ټولنيز خدمت، په کار يا مشورې کې ګډون او د جبران پيسو ورکول. که چېرې تاسو ليوالتيا لرئ چې په خپله کاونټۍ کې د ټولنې پر بنسټ يا د سيمه ييز حکومت د رغوونکي عدالت د پروګرامونو په اړه لا يات معلومات ترلاسه کړئ، مهرباني وکړئ د لوی څارنوالی د قربانيانو د خدمتونو له برخې سره په 9069-433-877-1 شمېره اړيکه ونيسئ يا زموږ ويب پاڼې ته په www.oag.ca.gov/victimservices/contact پته مراجعه وکړئ.

## د قربانيانو ملي سرچينې

**د جرم د قربانيانو ملي مرکز:** 8700-467-202-1 • victimsofcrime.org

CALIFORNIA DEPARTMENT OF JUSTICE

OFFICE OF THE ATTORNEY GENERAL

# د قربانیانو د حقونو منشور

## د کلیفورنیا اساسي قانون، I ماده، 28(b) برخه

د دې لپاره چې د قرباني د عدالت او قانوني پروسې حقونه وساتل شي او خوندي پاتې شي، قرباني حق لري چې لاندې حقونه ولري:

1. د دې لپاره چې له انصاف او درناوي سره چلند ورسره وشي، د ده یا هغې د محرمیت او وقار درناوی وشي، او د جنایي یا ماشومانو د عدلي بهیر په اوږدو کې له وېرووني، ځوروني او ناوړه چلند څخه خوندي وي.

2. د تورن او هغو اشخاصو پر وړاندې چې د تورن په استازیتوب عمل ترسره کوي، په معقول ډول ساتنه ترسره شي.

3. د دې حق لري چې د تورن کس لپاره د ضمانت پیسو او د خوشې کېدو شرایط ټاکلو پر مهال، د قرباني او د هغه د کورنۍ خوندیتوب په پام کې ونیول شي.

4. دا حق چې محرم معلومات یا اسناد تورن کس، د هغه وکیل یا د هغه په استازیتوب بل هر شخص ته ورنه‌کړل شي، که چیرې دغه معلومات د قرباني یا د هغه د کورنۍ د موندلو یا ځورولو لپاره وکارول شي یا هغه محرمې خبرې افشا کوي چې د طبي یا مشورتي درملنې پر مهال شوې وي یا نور هغه معلومات چې د قانون له مخې محرم یا ځانګړی امتیاز لرونکي وي.

5. دا حق چې قرباني کولی شي د تورن، د هغه د وکیل یا د هغه په استازیتوب د بل هر کس له خوا د مرکې، بیان اخیستو یا معلوماتو غوښتنې (د کشف غوښتنه) څخه انکار وکړي او که قرباني له داسې مرکې سره موافقه وکړي، نو حق لري چې پر هغې مناسب شرایط وضع کړي.

6. د معقول اطلاع ورکولو او د څارنې اداري سره د معقولو مشورو حق، که غوښتنه وشي، د مدافع کس د نیول کېدو په اړه که څارنوال پرې خبر وي، د لګول شویو تورونو، د تورن د استرداد (بېرته راوستلو) د پرېکړې، او که غوښتنه وشي، د مقدمې د محاکمې نه مخکې د هر ډول پرېکړې څخه مخکې خبر او باخبره کېدل.

7. دا حق چې قرباني ته د غوښتنې په صورت کې، باید د ټولو علني قضایي غونډو – په ګډون د نابالغو د جرمونو اورېدنې – په اړه مناسب خبر ورکړل شي، هغه غونډې چې پکې تورن او څارنوال د ګډون حق لري او همداراز په مشروط ډول د خوشې کېدو یا بل ډول محکومیت وروسته د خوشې کېدو غونډو په اړه او دا چې قرباني حق لري په دغو ټولو غونډو کې ګډون وکړي.

8. د قرباني لخوا د غوښتنې په صورت کې دا حق چې د نابالغو د جرمونو اړوند غونډو په ګډون باید د هرې قضایي غونډې پر مهال واورېدل شي – چې پکې د نیول کېدو وروسته د خوشې کېدو پرېکړه، د جرم منل (اعتراف)، د سزا ټاکل، د دولت وروسته خوشې کېدل یا هره هغه غونډه شامله وي چې په هغې د قرباني کوم حق په اړه بحث ترسره کېږي.

9. د چټک محاکمې او د قضیې او اړوندو وروسته له فیصلې د اجراتو ژر او وروستي پای ته رسېدو لپاره.

10. په مشروط ډول د آزادۍ د ځانګې هغه مسؤل کس ته د معلوماتو وړاندې کول چې د حکم له صادرېدو وړاندې په قرباني او هغه په کورنۍ باندې د جرم د اغیزو په اړه پلټنې ترسره کوي او د تورن کس پر وړاندې د حکم له صادرېدو وړاندې د هر ډول سپارښتنو وړاندې کول.

11. د غوښتنې په صورت کې د حکم له صادرېدو پر وړاندې د تورن کس د لاسرسي په صورت کې راپور ترلاسه کول خو له هغو برخو څخه پرته چې د قانون پر بنسټ محرم ګڼل شوې وي.

12. دا حق چې د قرباني لخوا د غوښتنې په صورت کې باید د تورن د محکومیت، سزا، د بند ځای او وخت یا د قضیې د بلې پایلې، د تورن د ټاکل شوې خوشې کېدو نېټې او همدارا‌ز د تورن د خوشې کېدو یا له بند څخه د تېښتې په اړه خبر ورکړل شي.

13. د استرداد لپاره.

A. کلیفورنیا د ایالت د خلکو روښانه موخه دا ده چې هغه ټول کسان چې د جرمونو له امله زیانونه ګالي، حق ولري چې له هغو کسانو څخه چې د دې زیانونو لامل شوي دي او جرمونه یې ترسره کړي وي، تاوان وغواړي او ترلاسه یې کړي.

B. په هره قضیه کې چې د جرم قرباني ته تاوان رامنځ ته کوي، له محکوم شوي تورن څخه باید د جبران تاوان حکم وشي، پرته له دې چې کومه سزا یا بله پرېکړه یې پر وړاندې وشي.

C. ټولې مالي پیسې، پیسې او ملکیتونه چې له هغه چا څخه راټولیږي چې د تاوان د ورکولو حکم پرې شوی وي، لومړی باید د قرباني ته د ورکړل شوي تاوان د پیسو د ادا کولو لپاره وکارول شي.

14. په هغه صورت کې چې نور د سند په توګه ورته اړتیا نه وي، په چټک ډول د توکو ستنول.

15. دا حق چې قرباني په مشروط ډول د خوشې کېدو کړنو په اړه خبر شي، تر څو په دې بهیر کې برخه واخلي، په مشروط ډول د خوشې کېدو ادارې ته معلومات وړاندې کړي تر څو د مجرم د مشروطې خوشې کېدو مخکې په پام کې ونیول شي او که غوښتنه وکړي د مجرم په مشروط ډول خوشې کېدو یا بل ډول خوشې کېدو په اړه خبر ورکړل شي.

16. دا حق چې قرباني، د قرباني کورنۍ او عامې ټولنې خوندیتوب باید په مشروط ډول د خوشې کېدو یا د محکومیت وروسته د خوشې کېدو پرېکړې مخکې په پام کې ونیول شي.

17. له (1) څخه تر (16) بندونو کې له ذکر شویو حقونو څخه خبر شي.

قرباني، د قرباني ټاکل شوی وکیل، د قرباني قانوني استازی یا د قرباني په غوښتنه وکالت ترسره کوونکی ځارنوال حق لري چې پورته یاد شوي حقونه په هر هغه لومړني یا استینافي محکمه کې چې قضیې ته د رسېدنې حق لري، د قانون له مخې تعقیب او پلي کړي. محکمه باید په سمدستي توګه دې ډول غوښتنې ته لاسرسی پیدا کړي.

(Cal. Const., art. I, § 28(c)(1).)